# د سرسایې اړوند اړین احکام

لیکنه:

د الدرر السنية ويب سايټ علمي څانګه

ژباړن:

انـــدیال صافی

Download from:aghalibrary.com

کال ۲۰/۰۵/۲۰۲۰م

## يادونه:

**په ټولنيزو رسنيو کې د اسلامي لارښود سايټ د نوم په يادونې سره هر چاته دکتاب نشرولو اجازه ده، خو په کتاب کې بدلون او تغير راوستل او بيا په خپل نوم د خپلې لوګو سره خپرول اخلاقي جرم دي، بايد ډډه ترې وشي.**

**په درنښت**

**د اسلامي لارښود سايټ اداره**

بسم الله الرحمن الرحیم

د چاپوني ټولې رښتې د ژباړن سره خوندي دي

## د کتاب ځانګړنې

---

د کتاب نوم: د سرسايې اړوند اړين احکام

ليکنه : د الدرر السنية ويب سايت علمي څانګه

ژباړن : انـــديال ساپی

کمپوز : ژباړن

چاپ کال : ۲۰۲۰م

چاپ شمېر: ناچاپ

خپرندوی: ريان کتابتون او اســلامي لارښود ســايټ

---

# لومړي فصل:
# د زكاة الفطر تعريف، حکم او حکمت

## لومړی مبحث: د زکاة الفطر (سرسایې) لغوي او شرعي تعریف :

### ١- د زکاة الفطر لغوي تعریف:

زکات په لغت کې پاکوالي، ودې او برکت ته وايي[١] ، او فطر په لغت کې له په (فاء ،طاء راء) څخه صحیح اصل دی چې د يو شي په پرانستلو او څرګندولو دلالت کوي[٢] .

### ٢- د زکاة الفطر شرعي تعریف:

زکاة الفطر[٣] :د شريعت له لورې په هر مسلمان ټاکل شوي صدقه ده چې وروکي اختر د لمانځه څخه مخکې به يې خاصو خلکو ته ورکوي[٤] .

## دويم مبحث: د زكاة الفطر حکم:

---

[١] النهاية لابن الأثير(٣٠٧/٢)، لسان العرب لابن منظور(٣٥٨/١٤).

[٢] وګوره: مقاييس اللغة لابن فارس(٥١٠/٤).

[٣] صدقة الفطر ورته هم وايي: د زكات اضافت فطر ته وشو ځکه چې د وجوب لامل دي، لکه: څرنګه چې د يو شي اضافت سبب ته کيږي، ويستونكي جنس ته (فِطرة) وايي، دا ويی د د زيږند له پلوه نه عربي دي او نه معرب، بلکې د فقهاوو اصطلاح ده، ګويا کې دا د الفطرة له ويي اخستل شوي چې معنى يې خلقت دی، معنى د پدايښت زكات چې موخه ترې دبدن او نفس څخه صدقه ويستل دي، وګوره: المجموع للنووي(١٠٣/٦)، کشاف القناع للبهوتي (٢٤٥/٢).

[٤] معجم لغة الفقهاء لمحمد رواس قلعجي وحامد صادق قنبي(ص٢٣٣)، مجلة البحوث الإسلامية(٣١٧/٦٢)، وګوره: البناية شرح الهداية (٤١٨/٣).

**د څلورو واړو فقهي مذهبونو احنافو[1] ، مالکيانو[1] ( نه په مشهوره سره)، شافعيانو[2] او حنبليانو[3] په اتفاق سره سرسايه ورکول واجب دي، دا د اهل ظواهرو مذهب[4] او د عامو علماوو وينا ده[5] ، په اړه يې اجماع هم راغلي[6]**

---

(١) احناف ترې يوازې په وجوب سره تعبير کوي د جمهور په خلاف چې هغوی ورته فرض وايي، کمال ابن الهمام وايي:( هغه امر چې په ظن سره ثابت وي وجوب افاده کوي، په معنی کې اختلاف نشته ځکه هغه فرضيت چې هغوی يې ثابتوی پدې توجيه نه دي چې انکار کوونکی يې کافر وبلل شي، بلکې د هغه وجوب په معنی دی چې مونږ يې وايو، په پای کې فرض د هغوی په اصطلاح کې عام د واجب نه زمونږ په عرف کې، نو د فرض اطلاق يې د هغه په يو جز وکړ..... کچېرته وپوښتل شي: پکار خو دا ده چې د فرض اطلاق په هغه څه وشي چې زمونږ په عرف کې واجب بلل کېږي ترڅو په وجوب اجماع رامنځته شي، نو جواب دا دی کله چې اجماع متواتره رانقل شي نو بيايې قطعي اجماع وي، او يا داچې د دين له ضروورياتو څخه وي لکه د ډېرو په وړاندې پنځه اړتياوې، خو کله چې اجماع هم ظني وي نو بيا داسې نده، لدې امله يې په ډاګه کړه چې د وجوب څخه يې انکار کوونکی کافر نه دی، نو دا يقيني شوه مراد ته هغه وجوب دی چې زمونږ په وړاندې عرفي معنی لري) فتح القدير للكمال ابن الهمام(٢٨١/٢)، وګوره: تبين الحقائق شرح كنز الدقائق للزيلغي، حاشية الشلبي (٣٠٦/١)، عراقي د ابن عمر رضي الله عنهما د حديث په اړه وايي: پدې کې راغلي چې زکاة الفطر فرض دی، دا جمهورو قاعدې د غوښتنې سره سم دی چې وايي: فرض او واجب مترادف دي، احنافو په خپلو کتابونو کې د خپلې قاعدې د غوښتنې سره سم چې واجب هغه دی-

چې په ظني دليل ثابت وي يوازې د واجب کلمه راوړي. د حنابلو ترمنځ اختلاف دي، ابن قدامة وايي: زمونږ ځينو ملګرو ويلي: ايا فرض نومولی شي سره د وجوب ويلو نه ؟ دوه راويته دي، هغه وايي: صحيح دا ده چې دا فرض ده چې دليل د ابن عمر رضي الله عنه حديث دی(فرَض رسولُ الله صلَّى الله عليه وسلَّم صدقةَ الفِطرِ) بل داچې علماوو يې په

د سنت څخه دليل:

عن ابن عُمَر رَضِيَ الله تعالى عنهما قال: ((فرَض[٧] رسولُ الله صلَّى الله عليه وسلَّم زكاةَ الفِطر صاعًا من تَمرٍ، أو صاعًا من شَعيرٍ، على العبدِ والحُرِّ، والذَّكرِ

---

وجوب اجتماع كړي، كڅېرته فرض واجب وي نو بيا واجبه ده، او كڅېرته واجب مؤكد وي نو بيا اجماع سره واجب مؤكدة ده. طرح الترتيب في شرح التقريب (۴۷/۴).

[١] الكافي في فقه أهل المدينة لابن عبى البر(٣٢٠/١)، حاشية العدوي على كفاية الطالب الرباني(٥١١/١).

[٢] روضة الطالبين للنووي(٢٩١/٢)، تحفة المحتاج للهيثمي ، حواشي الشرواني والعبادي(٣٠٥/٣).

[٣] كشاف القناع للبهوتي (٢٤٦/٢)، المغني لابن قدامة (٧٩/٣).

[٤] ابن حزم وايي: د رمضان سرسايه وركول په هر وړوكي او لوي، نارينه او ښځينه، ازاد او مري مسلمان باندې وركول واجبه فريضة ده، كه څه هم ځينو د مور په نس كې د ماشوم يادونه كړي ده(۱۱۸/۶-شمېره۷۰۴).

[٥] شرح السنة للبغوي (٧١/٦).

[٦] الإجماع لابن المنذر(ص:٤٧)،بداية المجتهد لابن رشد (٢٧٩/١)، المغني لابن قدامة (٧٩/٣)، المجموع للنووي(١٠٤/٦)، خو د اجماع په رانقليدو كې هم نظر دی فتح الباري لابن حجر(٣٦٨/٣)، وگوره: طرح التثريب في شرح التقريب للعراقي(۴۶/۴)، البناية شرح الهداية للعيني (۴۸۱/۳).

[٧] ابن دقيق العيد وايي: (ځينې د نه وجوب لور ته تللي او د فرض كلمې معنى په تقدير او ټاكلو سره كوي چې همدا لغوي اصل هم دي، خو لكن په استعمال عرفى كې په وجوب سره رانقل ده، نو په عرفي معنى حملول يې لومړيتوب لري ځكه په استعمال كې چې كومه معنى مشهوره وه نو په غالبه توگه همغه مراد وي) إحكام الأحكام (ص:٢٦٤)، ابن الهمام وايي: د شارع په وينا كې لفظ په شرعي حقيقت حملول متعين دي ترڅو چې

والأنثى، والصَّغير والكبيرِ مِنَ المسلمينَ، وأمر بها أن تُؤدَّى قبل خُروجِ النَّاسِ إلى الصَّلاةِ))[1] . وفي لفظٍ آخَرَ: ((فرَض رسولُ الله صلَّى الله عليه وسلَّم صدقةَ الفِطرِ صاعًا من شَعيرٍ، أو صاعًا مِن تَمرٍ، على الصَّغيرِ والكبيرِ، والحرِّ والمَملوك)).

ژباړه: د ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي : رسول صلى الله عليه وسلم زكاة الفطر(سرسايه)، يوه پيمانه كجورې يا وربشې، په هر ازاد، مري، نارينه، ښځينه لوی او وړوكي مسلمان باندې وركول فرض كړي او امر يې كړي چې لمانځه ته د خلكو له وتلو مخكې وركړل شي.

په بل لفظ كې راغلي: رسول صلى الله عليه وسلم صدقة الفطر ( سرسايه) يوه پيمانه وربشې يا كجورې، په هر وړوكي او لوی، ازاد او مري باندې وركول فرض كړي.

---

شرعي حقيقت نه د اړولو صارف نه وي، په فرض كې شرعي حقيقت يوزاې تقدير او اندازه كول نه دي، په تېره بيا په دې حديث كې (أنه عليه الصلاة والسلام أمر بزكاة الفطر صاعا من تمر أو صاعا من شعير)چې د بخاري او مسلم لفظ دي، ابن عمر رضي الله عنه وايي:( خلكو د اوړو له دو لپو سره برابر وگرځول) نو د فرض لفظ معنى د أمر ده هغه امر چې د ايجاب لپاره وي، فتح القدير(٢/٢٨٢).

[1] بخاري روايت كړي (١٥٠٣)، مسلم روايت كړي(٩٨۴-٩٨۶)، په بل لفظ سره روابت، بخاری روايت كړي(١٥١٢) مسلم روايت كړي(٩٨۴).

**دریم مبحث: د سرسایي ورکولو حکمت:**

سرسایې د مشروعیت د حکمتونه څخه ځینې په لاندې ډول دي:

١-: دروژه دار لپاره پاکوالی او دهغه بې ځایه او بې حیاء ویناوو جبیره ده چې د رمضان په میاشت کې ترې واقع شوي وي.

٢-: د مسکینانو لپاره خوراک او له هغوی سره خواخوږي ده ترڅو د اختر په ورځ له سوال څخه خلاص او شتمنو سره د اختر په خوښیو کې شریک شي.

د ابن عباس رضي الله عنه نه روایت دي، فرمایي:((فَرَضَ رسولُ الله صلَّى الله عليه وسلَّم زكاةَ الفِطر؛ طُهْرةً للصَّائِمِ مِنَ اللَّغوِ والرَّفَثِ، وطُعمةً للمَساكِينِ، مَن أدَّاها قبل الصَّلاةِ فهي زكاةٌ مَقبولةٌ، ومَن أدَّاها بعد الصَّلاةِ فهي صدقةٌ مِنَ الصَّدقاتِ))[1] .

ژباړه: رسول صلی الله علیه وسلم سرسایه ورکول فرض کړي، دروژه دار لپاره د بې ځایه او بې حیاء ویناوو پاکوالي دي او د مسکینانو لپاره خوراک دي. څوک چې یې د لمانځه څخه مخکې اداء کړي نو قبوله شوي صدقه ده او څوک چې له لمانځه وروسته ورکړي نو بیا د عامو صدقو په څېرصدقه ده.

[1] أبو داود (١٦٠٩)، ابن ماجه (١٨٢٧)، دارقطني (١٣٨/٢)، حاكم (٥٦٨/١) روایت کړي دي دارقطني یې د رواتو په اړه وایي: په دوی کې مجروح نشته، امام نووي یې اسناد حسن گرځولی ((المجموع)) (١٢٦/٦)، ابن الملقن په ((شرح البخاري)) (٦٣٦/١٠)، وابنُ باز په ((فتاوى نور على الدرب)) (٢٧١/١٥). اوألباني په ((صحيح الجامع)) (٣٥٧٠) کې صحیح گرځولي دي.

۳- د بدن زكات ويستل دي، دا چې الله تعالى پر ده د پاتې كېدو لوربينه وكړه او تر بل كاله يې پاتې كړ له دې امله پر هغه چا هم واجب ده چې روژه نيول پرې نه وي، لكه: ماشوم، ليونى او هغه څوک چې قضاء پرې وي خو لا راوړي يې نه وي[١] .

۴- الله تعالى د نعمت شكر اداء كول دي، چې روژه دارو ته يې د روژې نيولو توفيق وركړ لكه څرنگه چې حاجي بيت الله ته تللو د توفيق د نعمت ادا كولو لپاره ځان سره هديي بوځي[٢] .

لدې لامله يې روژې ته اضافت وشو، لكه: څرنگه چې د شيانو اضافت خپل سبب ته كيږي.

۵- په ټاكلي وخت يې اړو خلكو ته وركول د ستر ثواب څخه برخمن كېدل دي.

لكه څرنگه چې د ابن عبَّاس رضي الله عنه په حديث كې يادونه وشوه : ((فمَن أدَّاها قبل الصَّلاةِ؛ فهي زكاةٌ مقبولةٌ، ومَن أدَّاها بعد الصَّلاةِ؛ فهي صدقةٌ مِنَ الصَّدَقاتِ))[٣] .

---

[١] إرشاد أولى البصائر والألباب لابن سعدي (ص: ١٣٤).

[٢] إرشاد أولى البصائر والألباب لابن سعدي (ص: ١٣٥).

[٣] أبو داود (١٦٠٩)، ابن ماجه (١٨٢٧)، الدارقطني (١٣٨/٢)، حاكم (٥٦٨/١) روايت كړي دي دارقطني د رواتو په اړه وايي: په دوى كې مجروح نشته، ابن قدامة په ((المغني)) (٢٨٤/٤)، ألباني في ((صحيح سنن أبي داود)) (١٦٠٩) كې حسن گرځولي دي، نووي په ((المجموع)) (١٢٦/٦)، ابن الملقن په ((الإعلام)) (١١٨/٥)، كې اسناد حسن گرځولي دي، اوابنُ باز په ((فتاوى نور على الدرب)) (٢٧١/١٥)، كې صحيح گرځولي دي.

ژباړه: څوک چې يې د لمانځه څخه مخکې اداء کړي نو قبوله شوي صدقه ده او څوک چې له لمانځه وروسته ورکړي نو بيا د عامو صدقو په څېر صدقه ده.

٦- پدې سره د اختر په ورځ د مسلمانانو خوشحالي بشپړېږي او د روژې نيمګړتيا پوره کېږي.

## دويم فصل: پر چا سرسايه ورکول واجب دي

**لومړی مبحث: سرسايه ورکول پر چا واجب دي:**

د سرسايې ورکول په هر مسلمان وړوکي او لوي، نارينه او ښځينه، ازاد او مري باندې فرض دي.

دلائل:

لومړی: د سنت څخه دليل:

عنِ ابنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عنهما: ((أنَّ رسولَ اللهِ صلَّى الله عليه وسلَّم فَرَضَ زكاةَ الفِطرِ صاعًا مِن تَمرٍ، أو صاعًا مِن شَعيرٍ، على كلِّ حرٍّ أو عبْدٍ، ذكَرٍ أو أنثى من المُسلمينَ))[1] .

ژباړه: د ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دى، فرمايي : بېشكه رسول صلى الله عليه وسلم زكاة الفطر(سرسايه)، يو پيمانه كجورې يا وربشې، په هر ازاد، مري، نارينه او ښځينه مسلمان باندې ورکول فرض کړي .

دويم: اجماع:

ابنُ رشد[2] ، او ابن قُدامة[3] پرې اجماع رانقل کړي ده.

---

[1] بخاري (١٥٠٤)، اومسلم (٩٨٤) روايت کړي دي.

[2] بداية المجتهد (٢٧٩/١).

[3] مغني (٧٩/٣).

**دويم مبحث: له خپل ځان څخه د سر سايې ورکولو شرطونه:**

**لومړی مطلب: پراخي او وس لرل:**

لومړی: تنگ لاسی سرسايې د واجبيدو پر وخت:

سرسايې د وجوب پروخت پر تنگ لاسي سرسايه ورکول واجب نه دي.

دليل يې اجماع ده:

ابنُ المُنْذِر[١] ، او رملي[٢] اجماع رانقل کړي ده چې څوک څه ونه لري نو پر هغه سرسايه ورکول نشته.

دويم: هغه اندازه پراخي او وس لرل چې پکې د سرسايې ورکول واجبېږي:

په هر مسلمان سرسايه ورکول واجب دي، خو ترڅو دومره څه ولري چې د ده او د هغه چا له خوراک زيات وي چې پر ده يې نفقه لازمه وي که څه هم نصاب ونه لري[٣] ، دا د جمهور مالکيانو[٤] ، شافعيانو[١] او حنابلو[٢] مذهب دي، سلفو د يوې ډلې هم دا وينا ده[٣] .

---

[١] الإشراف (٧٤/٣)، وگوره: المجموع (١١٣/٦).

[٢] نهاية المحتاج إلى شرح المنهاج (١١٤/٣).

[٣] د احنافو پر خلاف ځکه هغوی د سرسايې د وجوب لپاره د اضافي نصاب درلودل شرط گرځولي دي، پر دې دليل چې صدقه بايد د وس او شتمنی په حالت کې وي، او شتمن هله يقيني وي چې څوک نصاب ولري، بل داچې سرسايې هم هر کال تکرارېږي نو واجب ده چې د نورو د عامو صدقو په څېر کې نصاب ته پاملرنه وشي، تبيين الحقائق للزيلعي او حاشية الشلبي (٣٠٦/١).

[٤] د مالکيانو په نيز دا پوره ده چې يوازې د اختر په ورځ دومره څه ولري چې د ده او د هغه چا له خوراک زيات وي چې پر ده يې نفقه لازمه وي، د شافعيانو او حنابلو پر خلاف هغوی د صدقة الفطر دومره څه لرل شرط گڼي چې د اختر په شپې او ورځ د دوی

**دلائل:**

**لومړی: د کتاب څخه دليل:**

**الله تعالی فرمايي:(( لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا)) [البقرة: 286].**

**الله تعالی هېڅ يو نفس په هغه څه نه مکلفوي چې هغه د توان پورته وي**

**د استلال وجه:**

**له ناچاره او بې وسه څخه سختي پورته شوي ده، پر هغه چا سرسايه ورکول واجب نه دي ترڅو چې دومره څه ونه ولري چې د ده او د هغه چا له خوراک زيات وي چې پر ده يې نفقه لازمه وي[٤] .**

**دويم: د سنت څخه دليل:**

**١- عنِ ابنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عنهما: ((أنَّ رسولَ الله صلَّى الله عليه وسلَّم فَرَضَ زكاةَ الفِطرِ صاعًا مِن تَمرٍ، أو صاعًا من شَعيرٍ على كلِّ حرٍّ أو عبدٍ، ذكرٍ أو أنثى مِنَ المُسلمين))[٥] .**

د خوراک زيات وي، الكافي في فقه أهل المدينة (١/٣٢١)، مواهب الجليل للحطاب (٢/٣٦٦)، وګوره: المجموع للنووي (٦/١١٠)، كشاف القناع للبهوتي (٢/٢٤٧).

[١] المجموع للنووي (٦/١١٠)، مغني المحتاج للخطيب الشربيني (٢/١١٢).

[٢] الإنصاف للمرداوي (٣/١٦٤)، كشاف القناع للبهوتي (٢/٢٤٧).

[٣] قال ابنُ المُنْذِرِ: الإشراف (٣/٧٥). بداية المجتهد (١/٢٧٩). المغني (٣/٩٤). المجموع (٦/١١٣).

[٤] مجلة البحوث الإسلامية (٦٢/٣٢٣).

[٥] بخاري (١٥٠٤)، اومسلم (٩٨٤) روايت کړي دي.

ژباړه: د ابن عمر رضي الله عنهما نه روایت دی، فرمایي : بېشکه رسول صلی الله علیه وسلم زکاة الفطر(سرسایه)، یو پیمانه کجورې یا وربشې، په هر ازاد، مري، نارینه او ښځینه مسلمان باندې ورکول فرض کړي.

د استدلال وجه:

نص مطلق دی وس داره او د نصاب څښتن یې ندی خاص کړي، نو په هر هغه چا سرسایه ورکول واجب دي تر څو دومره څه ولري چې د ده او د هغه چا له خوراک زیات وي چې پر ده یې نفقه لازمه وي[1] .

٢- عن ابنِ عبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عنهما، قال: ((فرَضَ رَسُولُ اللهِ صلَّى الله عليه وسلَّم زكاةَ الفِطرِ طُهرةً للصَّائِمِ مِنَ اللَّغوِ والرَّفَثِ...))[2] .

ژباړه: د ابن عباس رضي الله عنهما نه روایت دی، فرمایي: رسول صلی الله علیه وسلم سرسایه ورکول فرض کړي، دروژه دار لپاره د بې ځایه او بې حیاء ویناوو پاکوالي دي.

---

[1] المنتقى شرح الموطأ للباجي (٢/١٨٦)، شرح السنة للبغوي (٦/٧١)، الدراري المضية شرح الدرر البهية للشوكاني (٢/١٦٩).

[2] أبو داود (١٦٠٩)، ابن ماجه (١٨٢٧)، الدارقطني (٢/١٣٨)، حاكم (١/٥٦٨) روایت کړي دي دارقطني یې د رواتو په اړه وایي: په دوی کې مجروح نشته، امام نووي یې اسناد حسن گرځولی ((المجموع)) (٦/١٢٦)، ابن الملقن په ((شرح البخاري)) (١٠/٦٣٦)، وابنُ باز په ((فتاوى نور على الدرب)) (١٥/٢٧١). اوألباني په ((صحيح الجامع)) (٣٥٧٠) کې صحیح گرځولي دي.

د استدلال وجه:

حدیث شریف پر هغه موخې دلالت کوي چې لامله سرسایه واجب شوي چې هغه دروژه دار لپاره د بې ځایه او بې حیاء ویناوو پاکوالي دي، د وس داره او ناچاره ترمنځ توپیر نه کوي تر څو چې د اختر په شپه ورځ دومره څه ولري چې د ده او د هغه چا له خوراک زیات وي چې پر ده یې نفقه لازمه وي[١] .

٣- عن أبي هُرَيرَةَ رَضِيَ اللهُ عنه قال: قال رسولُ اللهِ صلَّى الله عليه وسلَّم: ((أفضلُ الصَّدَقةِ ما ترك غِنًى، واليدُ العليا خيرٌ مِنَ اليَدِ السُّفلى، وابدأْ بمن تَعُولُ))[٢] .

ژباړه: غوره صدقه هغه ده چې د وس او شتمنۍ په حالت کې وي، اوچت لاس له لاندې غوره دی، او د هغه چا پیل وکړه چې نفقه یې ستا پر غاړه وي.

٤- عن سهْلِ بنِ الحنظليَّة رَضِيَ اللهُ عنه أنَّ رسولَ الله صلَّى الله عليه وسلَّم قال: ((مَن سأل وعنده ما يُغنيه، فإنَّما يستكثِرُ مِنَ النَّارِ))، فقالوا: يا رسولَ الله، وما يُغنيه؟ وما الغِنى الذي لا تنبغي معه المسألةُ؟ قال: ((قدْرُ ما يُغدِّيه ويُعشِّيه))[٣].

---

[١] وگوره: نيل الأوطار (٤/٢٢٠).

[٢] بخاري روایت کړي دي (٥٣٥٥)

[٣] أبو داود (١٦٢٩)، أحمد (١٧٦٢٥)، طحاوي په ((شرح معاني الآثار)) (٤٨٦)، اوابن حبان (٥٤٥) روایت کړي دي. طحاوي په ((شرح معاني الآثار)) (٢/٢٠) کې وايي:پدې باندې متواتر اثار راغلي دي ، طبري په ((مسند عمر)) (١/٢٥) کې اسناى صحیح گرځولي، الباني

ژباړه: د سهْلِ بنِ الحنظليَّة رَضِيَ اللهُ عنه نه روایت، بېشکه رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلي:" څوک چې سوال وکړي او دومره څه لري چې د ده کفایت کوي نو یقینا د ځان لپاره یې اور زیات کړ" صحابوو وویل: ای د الله رسوله! څه یې کفایت کوي؟ د هغې شتمنۍ اندازه څومره ده چې سوال ورسره مناسب نه وي، هغه وفرمایل:" دومره څه ولري چې د سحر او ماښام یې وشي".

دریم: سرسایه مالي حق دی چې د مال په زیاتوالي نه زیاتېږي، نو دکفارې په څېر پکې نصاب معتبر نه دی[1] .

څلورم: څوک چې د اختر په شپه ورځ دومره څه ونه ولري چې ده او د ته د ورپه غاړه خلکو له نفقې زیات وي، نو پر ده سرسایه نشته، ځکه که د خپلې ورځې تږول یا څه برخه خواړه بل ته ورکړي نو دا مصرفوونکی شمېرلي شي نه په بل مصرف کوونکی[2] .

پنځم: اختر د شپې او ورځې د خوراک معتبرول هغه څه دي چې خلاصی ترې نشته، ځکه سرسایه د مشروعیت موخه پدغه ورځ د ناچارو او اړمنو سره مرسته ده، کچېرته د سرساسې ویستونکي په حق کې دا معتبر نه وي، نو دا به د هغه چې په څېر وي چې مونږ ته پدغه ورځ ورسره د مرستې امر

---

په ((صحیح الترغیب)) (٨٠٥)، اووادعي په ((الصحیح المسند)) (٤٦٢) کې صحیح گرځولي دي.

[1] الكافي لابن قدامة (٤١٤/١)، المنتقى شرح الموطأ للباجي (١٨٦/٢).

[2] الدراري المضية شرح الدرر البهية (١٦٩/٢).

شوي، نه د هغه چې په څېر چې هغه ته سرسايې د ويستلو او بل د غني کول امر شوي وي[١] .

دريم: ايا په غاړه قرض لرل د سرسايې واجبيدو مخه نيسيٍ؟!

د څلورو وړاو مذهبونو احنافو[٢] ، مالکيانو[٣] ، شافعيانو[٤] او حنابلو[٥] په اتفاق سره په غاړه قرض لرل سرسايې د واجبيدو منع نه کوي.

د لاندې راتلونکو دليلونو پر بنا:

لومړى: سرسايې د وجوب دلائل مطلق دي[٦] .

دويم: دى د هغه نصاب څښتن او په هغه کې د تصرف واک لري چې سرسايه پکې واجب ده[٧] .

دريم: د سرسايې په اړه زيات تاکيد شوى، حتى پر هغه فقير هم واجب ده چې دومره څه ولري چې د ده او د ته د ورپه غاړه خلکو له خوراک زيات وي[٨] .

---

[١] الدراري المضية شرح الدرر البهية (٢/١٦٩).

[٢] حاشية ابن عابدين (٢/٢٦١)، وګوره: درر الحكام للملا خسرو (١/١٧٢).

[٣] منح الجليل لعليش (٢/ ١٠٢)، وګوره: الذخيرة للقرافي (٣/١٦٠)، شرح مختصر خليل للخرشي (٢/٢٢٨).

[٤] مغني المحتاج للشربيني (١/٤١١)، نهاية المحتاج للرملي (٣/١١٥).

[٥] كشاف القناع للبهوتي (٢/٢٥١)، وګوره: المغني لابن قدامة (٣/١٠٠).

[٦] نهاية المحتاج للرملي (٣/١١٥).

[٧] نهاية المحتاج للرملي (٣/١١٥).

[٨] ابن تيمية رحمه الله وايي: کچېرته په ده باندې قرض وي او قرض دار ترې قرض نه غواړيو نو سرسايه به ورکوي، لکه: څرنګه : چې د اختر په ورځ خپلو بچو ته خوراک

**دویم مطلب: ازادي:**

**د څلورو وړاو مذهبونو احنافو[١] ، مالکیانو[٢] ، شافعیانو[٣] او حنابلو[٤] په اتفاق سره د سرسایې په وجوب کې ازادي شرط ده، دا ځکه چې مرى ملکیت نه لري او څوک چې ملکیت نه لري نو بل ته څه نه شي ورکولی[٥] .**

---

ورکوي، او دا د امام احمد مذهب هم دي،الاختیارات الفقهیة (ص: ٤٥٥)، وګوره:((المغني)) لابن قدامة (٣/١٠٠)، ((کشاف القناع)) للبهوتي (٢/٢٥١).

[١] تبيين الحقائق للزيلعي وحاشية الشلبي (١/٣٠٦) وګوره: بدائع الصنائع للكاساني (٢/٦٩).

[٢] مواهب الجليل للحطاب (٢/٣٦٦)، وګوره: الشرح الصغير للدردير وحاشية الصاوي (١/٦٧٢).

[٣] نهاية المحتاج للرملي (٣/١١٣)، : تحفة الحبيب للبجيرمي (٢/٣٥٢).

[٤] الفروع لابن مفلح (٤/٢١٠)، وګوره کشاف القناع للبهوتي (٢/٢٤٦).

[٥] الموسوعة الفقهية الكويتية (٢٣/٣٣٧).

**دریم مبحث: د کورنۍ له غړو څخه سرسایه ویستل:**

**لومړی مطلب: وړو اولادنو څخه د سرسایې ورکولو حکم:**

په پلار واجب دي چې د امکان په صورت کې د خپلو هغو وړو اولادنو سرسایې ورکړي چې مال نه لري.

دلائل:

لومړی: د سنت څخه دلیل:

عن ابنِ عُمَرَ رَضِيَ الله تعالى عنهما قال: ((فرَض رسولُ اللهِ صلَّى الله عليه وسلَّم زكاةَ الفطرِ صاعًا من تمرٍ، أو صاعًا من شَعيرٍ، على العبدِ والحرِّ، والذَّكَرِ والأنثى، والصَّغيرِ والكَبيرِ مِنَ المسلمينَ، وأمَر بها أن تؤدَّى قبل خُروجِ النَّاسِ إلى الصَّلاة))[1] . وفي لفظٍ آخَرَ: ((فرَض رسولُ الله صلَّى الله عليه وسلَّم صدقةَ الفِطرِ صاعًا من شَعيرٍ، أو صاعًا من تَمرٍ، على الصَّغيرِ والكبيرِ، والحرِّ والمَملوكِ)).

ژباړه: د ابن عمر رضي الله عنه نه روایت دی، فرمایي : رسول صلی الله علیه وسلم زكاة الفطر(سرسایه)، یو پیمانه کجورې یا وربشې، په هر ازاد، مري، نارینه، ښځینه لوی او وړوکي مسلمان باندې ورکول فرض کړي او امر یې کړي چې لمانځه ته د خلکو له وتلو مخکې ورکړل شي.

په بل لفظ کې راغلي: رسول صلی الله علیه وسلم صدقة الفطر ( سرسایه) یو پیمانه وربشې یا کجورې، په هر وړوکي او لوی، ازاد او مري باندې فرض کړي.

---

[1] بخاري (١٥٠٣)، او مسلم (٩٨٤، ٩٨٦) په بل لفظ سره هم: بخاري (١٥١٢)، او مسلم (٩٨٤)روایت کړي.

دويم: د اثارو څخه دليل:

نافع وايي: ( ابن عمر به د وړوكي او لوی سرسايه وركوله، حتى چې زمونږ د بچو به يې هم وركوله)[١] .

دريم: د اجماع دليل:

ابنُ المُنْذِرِ[٢] ، ابنُ عَبدِ البَ[٣] ر، ابنُ رُشْدٍ[٤] ، او ابنُ قُدامة[٥] پدې اجماع رانقل كړي ده.

**دويم مطلب: خپل غلام څخه د سرسايې وركولو حكم:**

په بادار واجب دي چې د امكان په صورت كې د خپل مري او وينځې سرسايه وركړي.

دلائل:

لومړی: د سنت څخه دليل:

عن ابنِ عُمَرَ رَضِيَ الله تعالى عنهما قال: ((فرَض رسولُ اللهِ صلَّى الله عليه وسلَّم زكاةَ الفطرِ صاعًا من تمرٍ، أو صاعًا من شَعيرٍ، على العبدِ والحرِّ، والذَّكَرِ والأنثى، والصَّغيرِ والكَبيرِ مِنَ المسلمينَ، وأمَر بها أن تؤدَّى قبل خُروجِ النَّاسِ إلى الصَّلاة)). وفي لفظٍ آخَرَ: ((فرَض رسولُ الله صلَّى الله عليه وسلَّم صدقةَ

---

[١] بخاري روايت كړي (١٥١١)

[٢] الإجماع لابن المُنْذِر (ص: ٤٧).

[٣] الاستذكار (٣/٢٦٣).

[٤] بداية المجتهد (١/٢٧٩).

[٥] المغني (٣/٧٩).

الفِطرِ صاعًا من شَعيرٍ، أو صاعًا من تَمرٍ، على الصَّغيرِ والكبيرِ، والحرِّ والمَملوكِ))[١] .

ژباړه: د ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی، فرمايي : رسول صلى الله عليه وسلم زكاة الفطر(سرسايه)، يو پيمانه كجورې يا وربشې، په هر ازاد، مري، نارينه، ښځينه لوی او وړوكي مسلمان باندې وركول فرض كړي اوامر يې كړي چې لمانځه ته د خلكو له وتلو مخكې وركړل شي.

په بل لفظ كې راغلي: رسول صلى الله عليه وسلم صدقة الفطر ( سرسايه) يو پيمانه وربشې يا كجورې، په هر وړوكي او لوی، ازاد او مري باندې وركول فرض كړي.

د استدلال وجه:

حديث كې په مري سرسايه واجب ده او مری مال نه لري نو معلومه شوه چې پر بادار يې واجب ده.

دويم: د اجماع دليل:

ابنُ المُنْذِر[٢] ، ابنُ رُشْد[٣] ، او ابنُ قُدامة[٤] اجماع رانقل كړي، نووي[٥] هم له داود پرته له ټولو علماوو حكايت كړي.

---

[١] بخاري (١٥٠٣)، او مسلم (٩٨٤، ٩٨٦) په بل لفظ سره هم: بخاري (١٥١٢)، او مسلم (٩٨٤) روايت كړي.

[٢] الإجماع (ص: ٤٧).

[٣] بداية المجتهد (١/٢٧٩).

[٤] المغني لابن قدامة (٣/٩١).

[٥] المجموع للنووي (٦/١٤٠).

دريم: سرسايه د بدن زكات ويستل دي، نو بادار به د خپل غلام سرسايه وركوي څكه هغه يې واک لري، لكه: څرنگه چې د خپل بچي سرسايه وركوي[١] .

څلورم: د مري نفقه پر بادار واجب ده نو سرسايه يې پرې هم واجب شوه، څكه سرسايه د نفقې په څېر ده[٢] .

**دريم مطلب: د خپلې ښځې سرسايه وركول:**

د خپلې ښځې څخه د سرسايې وركولو په لازميدو كې د علماوو اختلاف دي، دوه ويناوې لري:

لومړی قول:

پر خاوند لازم دي چې د خپلې ښځې[٣] سرسايه وركړي كله چې توان لري، دا د جمهور مالكيانو[٤] ، شافعيانو[٥] او حنبليانو[٦] مذهب دی، څكه چې نكاح نفقې د وجوب سبب گرځي، نو د قرابت او يمين د ملكيت په څېر

---

[١] مجلة البحوث الإسلامية (٣٢٣/٦٢).

[٢] المغني لابن قدامة (٩١/٣).

[٣] فتح الباري (٣٦٩/٣).

[٤] مواهب الجليل للحطاب (٢٦٤/٣)، وگوره: الفواكه الدواني للنفراوي (٧٨٥/٢). الاستذكار (٢٦٣/٣).

[٥] المجموع للنووي (١١٣/٦، ١١٦)، مغني المحتاج للخطيب الشربيني (٤٠٣/١).

[٦] الفروع لابن مفلح (٢١٦/٤)، وگوره: المغني لابن قدامة (٩٠/٣).

سرسايه هم واجب شوه [١] ، د زكات خلاف ځكه زكات د يمين او قرابت په ملكيت نه حمل كيږي[٢] .

دويم قول: پر خاوند لازم نه دي چې د خپلې ښځې صدقه الفطر وركړي، بلكې ښځه به خپله سرسايه وركوي، دا د احنافو[٣] او اهل ظواهرو[٤] مذهب او د سفيان الثوري[٥] قول دي، ابنُ المُنْذِر[٦] ، ابنُ عُثيمين[٧] ، او قَرَضاوي[٨] هم اختيار كړي دي.

دلائل:

لومړی: د كتاب څخه دليل:

الله تعالی فرمايي:(( وَلَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ إِلَّا عَلَيْهَا وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى))، [الأنعام: 164].

ژباړه: هر څوك چې څه گټي د هغه مسئول هغه په خپله دی، هيڅ پيتی پورته كوونكی د بل پيتی نه پورته كوي.

---

[١] فتح الباري (٣/٣٦٩).

[٢] المجموع للنووي (٦/١١٤)، المغني لابن قدامة (٣/٩٠، ٩١)،(فتاوى اللَّجنة الدَّائمة - المجموعة الأولى(٩/٣٦٧).

[٣] البحر الرائق لابن نجيم (٢/٢٧٢)، حاشية الطحطاوي (ص: ٤٧٥).

[٤] المحلى(٦/١٣٨).

[٥] المغني لابن قدامة (٣/٩٠).

[٦] المغني لابن قدامة (٣/٩٠).

[٧] الشرح الممتع (٦/١٥٤، ١٥٥).

[٨] فقه الزَّكاة (٢/٩٣٠).

که چېرته په يو شخص د خپل نفس او د هغه چا سرسايه واجب شي چې نفقه يې پر غاړه لري نو دا د بل پيټې پورته کول دي[١] .

دويم: د سنت دليل:

عن ابنِ عُمَرَ رَضِيَ الله تعالى عنهما قال: ((فرَض رسولُ الله صلَّى الله عليه وسلَّم زكاةَ الفِطرِ صاعًا مِن تَمرٍ، أو صاعًا مِن شَعيرٍ، على العبدِ والحرِّ، والذَّكَرِ والأنثى، والصَّغيرِ والكبيرِ مِنَ المُسلمين))[٢] .

ژباړه: د ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی، فرمايي : رسول صلى الله عليه وسلم زکاة الفطر(سرسايه)، يو پيمانه کجورې يا وربشې، په هر ازاد، مري، نارينه، ښځينه لوی او وړوکي مسلمان باندې ورکول فرض کړي دي.

د استدلال وجه:

په حديث کې د (فرض) لفظ راغلي دي، اصل پکې دا دی چې په هر يو بعينه واجب شي نه د بل چا نه[٣] .

دريم: سرسايه زکات دی نو په ښځه يې هم د مال د زکات په څېر ورکول واجب شو[٤] .

څلورم: د ولايت او نفقې قصر او محدوديت، د ولايت قصر دا دی چې سړی په ښځې باندې يوازې د نکاح په حقوقو کې ولايت کوي، ښځه به د خاوند له اجازې پرته نه وځي، خو د ښځې په مال کې هغې د اجازې پرته

(١) المحلى (٦/١٣٦رقم ٧٠٩)، الشرح الممتع لابن عُثيمين (٦/١٥٥).

(٢) بخاري (١٥٠٣)، او مسلم (٩٨٤، ٩٨٦) روايت کړي دي.

(٣) الشرح الممتع لابن عُثيمين (٦/١٥٥).

(٤) المغني لابن قدامة (٣/٩٠).

تصرف نشي کولای، د نفقې قصر او محدوديت دا دی چې سړی په ښځه باندې يوازې په رواتبو کې نفقه کوی، لکه: خوراک، استوګنه او جامه[١] .

[١] البحر الرائق لابن نجيم (٢/٢٧٢)، حاشية الطحطاوي (ص ٤٧٥)، الموسوعة الفقهية الكويتية (٢٣/٣٣٩).

**څلورم مبحث: د مور په نس کې د ماشوم څخه سرسايه ورکول:**

د څلورو وړاو مذهبونو احنافو[١]، مالکيانو[٢]، شافعيانو[٣] او حنبليانو[٤] په اتفاق سره د مور په نس کې د ماشوم څخه سرسايه ورکول واجب نه دي، دا د زياتو علماوو وينا ده[٥] او د اجماع حکايت په کې هم راغلي دي[٦].

**دلائل:**

**لومړی: د سنت دليل:**

**عن ابنِ عُمَرَ رَضِيَ الله تعالى عنهما قال: ((فرَض رسولُ الله صلَّى الله عليه وسلَّم زكاةَ الفطرِ صاعًا مِن تَمرٍ، أو صاعًا من شَعيرٍ، على العَبدِ والحرِّ، والذَّكَرِ والأنثى، والصَّغيرِ والكبيرِ مِنَ المسلمين)).**

---

[١] الفتاوى الهندية (١/١٩٢)، حاشية ابن عابدين (٢/٣٦١).

[٢] الكافي في فقه أهل المدينة لابن عبد البر (١/ ٣٢١)، وګوره: الذخيرة للقرافي (٣/١٥٧).

[٣] المجموع للنووي (٦/١٣٩)، نهاية المحتاج للرملي (٣/١١١).

[٤] كشاف القناع للبهوتي (٢/٢٤٩)، وګوره: الشرح الكبير لشمس الدين ابن قدامة (٢/٦٥٣).

[٥] الإشراف (٣/٧٢)، وګوره: طرح التثريب (٤/٥٧).

[٦] الإجماع لابن المُنْذِر (ص: ٤٧). المغني (٣/٩٩). المجموع (٦/١٣٩). المحلى (٦/١١٨، ١٣٢ رقم ٧٠٤). ځينې علماووو ډ مور په نس کې د ماشوم څخه سرسايه ويستل مستحب ګڼي، وګوره: الشرح الكبير لشمس الدين ابن قدامة (٢/٦٥٣)، ((كشاف القناع للبهوتي (٢/٢٤٩)، فتاوى اللَّجنة الدَّائمة – المجموعة الأولى (٩/٣٦٦)، مجموع فتاوى ورسائل العُثيمين (١٨/٢٦٣).

ژباړه: د ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی، فرمايي : رسول صلی الله عليه وسلم زکاة الفطر(سرسايه)، يو پيمانه کجورې يا وربشې، په هر ازاد، مري، نارينه، ښځينه لوی او وړوکي مسلمان باندې ورکول فرض کړي دي.

د استدلال وجه:دا د حديث پر دې دلالت کوي چې په وړوکي سرسايه ورکول واجب دي، او د مور په نس کې ماشوم باندې د لغت او عرف له پلوه د وړوکي نوم نه صادقېږي[١] .

دويم: په اصل کې د وجوب نشتوالی دی[٢] .

دريم: دا هغه ماشوم دی چې زکات هم ورپورې ندی تړلي، لکه څرنگه: د څاروي بچي د هغې(مال) په نس کې وي[٣] .

څلورم: د نس ماشوم لپاره د ميراث او وصيت پرته نور دنيوی احکام نه ثابتېږي هغه هم پدې شرط چې ژوندی پيدا شي[٤] .

پنځم: ترڅو چې د حمل تحقيق نه وي شوي، نو ژوند يې هم معلوم نه وي[٥]
.

---

[١] فتح الباري لابن حجر ( ٣ /٣٦٩ ).

[٢] فتح الباري لابن حجر ( ٣ /٣٦٩ ).

[٣] المغني لابن قدامة (٩٩/٣)، کشاف القناع للبهوتي (٢٤٩/٢).

[٤] المغني لابن قدامة (٩٩/٣)، کشاف القناع للبهوتي (٢٤٩/٢).

[٥] الفتاوى الهندية (١٩٢/١)، فتح الباري لابن حجر ( ٣ /٣٦٩ ).

## دريم فصل: د سرساسې ويستلو وخت:

**لومړی مبحث: سرسايې د وجوب وخت:**

سرسايې د وجوب په وخت کې د علماوو اختلاف دی[١] ، دوه ويناوې دي:

**لومړی قول:**

د رمضان وروستۍ ورځې په لمر پريوتلو سره سرسايې واجبېږي، دا د شوافعو[٢] او حنابلو[٣] صحيح مذهب، د مالکيانو[٤] مشهور قول او د ځينو سلفو وينا ده[٥] ، ابن عثيمين[٦] او لجنه دائمې[٧] هم اختيار کړي.

**دلائل:**

**لومړی: د سنت دليل:**

---

[١] ابن رشد وايي: د دې اختلاف فائده هغه نوي زيږدلي ماشوم ته ده چې اختر په ورځ د سبا راختلو مخکې او د اخرى روژې د لمر پريوتلو وروسته وزيږېږي، ايا په ده سرسايه شته او کنه؟ بداية المجتهد (٢٨٢/١). قرضاوي وايي: همدغه رنګه مکلف هم چې دغه وخت کې وفات شي
فقه الزّكاة للقرضاوي (٩٥٢/٢)، همدا رنګه څوک چې د چې اختر په ورځ د سبا راختلو مخکې او د اخرى روژې د لمر پريوتلو وروسته ايمان راوړي.

[٢] المجموع للنووي (١٢٦/٦)، مغني المحتاج للخطيب الشربيني (٤٠١/١).

[٣] الإنصاف للمرداوي (١٢٥/٣)، ويُنظر: المغني لابن قدامة (٨٩/٣).

[٤] شرح مختصر خليل للخرشي (٢٢٨/٢)، حاشية العدوي (٥١٤/١).

[٥] فتح الباري (٣٦٨/٣).

[٦] ((الشرح الممتع)) (١٦٦/٦).

[٧] ((فتاوى اللَّجنة الدَّائمة - المجموعة الأولى)) (٣٧٣/٩).

عن ابنِ عبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عنهما قال: ((فرَضَ رسولُ الله صلَّى الله عليه وسلَّم زكاةَ الفِطرِ؛ طُهرةً للصَّائمِ مِنَ اللَّغوِ والرَّفَثِ، وطُعمةً للمَساكينِ؛ مَن أدَّاها قبل الصَّلاةِ، فهي زكاةٌ مَقبولةٌ، ومَن أدَّاها بعد الصَّلاةِ، فهي صدقةٌ مِنَ الصَّدَقاتِ)) .

ژباړه: د ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دي، فرمايي: رسول صلی الله عليه وسلم سرسايه ورکول فرض کړي، دروژه دار لپاره د بې ځايه او بې حياء ويناوو پاکوالي دي او د مسکينانو لپاره خوراک دي. څوک چې يې د لمانځه څخه مخکې ورکړي نو قبوله صدقه ده، څوک چې له لمانځه
وروسته ورکړي نو بيا د عامو صدقو په څېر صدقه ده.

د استدلال وجې:

لومړی وجه:

دا حديث پر دې دليل دي چې سرسايه رمضان د وروستۍ ورځې په لمر پريوتلو سره واجبېږي، له دې پلوه چې د صدقې اضافت (فطر) بوزې ته شوی چې سرسايه بوزې پورې د خاص کېدو غوښتنه کوي، له ټول رمضان څخه لومړی روژه ماتي د رمضان په وروستۍ ورځ لمر پريوتل دي.

دويم استدلال: دا وينا (سرسايه دروژه دار لپاره پاکوالي دي) د روژې څخه وتل دروژه دار لپاره پاکوالي گرځيدلي او د روژې پای د اخرې ورځې لمر پريوتل وي، څوک چې د روژې وخت را ونه نيسي نو اړ نه دی چې روژه پاکه کړي، ځکه د رمضان کومه برخه يې نه د رانيولي نو واجب دا ده چې سرسايه پرې هم لازمه نه شي.

دويم: د زکاة الفطر اضافت ( فطر ) بوزې ته شوی، نو د روژې په ختميدو واجبېږي، لکه د مال زکات.

دريم: د سرسايه به يا د رمضان په پای او يا د شوال په پيل واجبېږي او د لمر پريوتل دواړه سره يو ځای کوي، نو د سرسايې تړل ورپسې غوره دي.

دويم قول:

سرسايې د واجبيدو وخت د بوژې ورځې د سبا راختلو څخه پيلېږي، دا د احنافو او اهل ظواهرو مذهب او د مالکيانو يو له مشهورو ويناوو او د شافعي مخکينۍ وينا ده، د ليث بن سعد هم دا قول دي او منذري اختيار کړي.

دلائل:

لومړی: د سنت دليل:

١- عن ابنِ عبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عنهما قال: ((فرَضَ رسولُ الله صلَّى الله عليه وسلَّم زكاةَ الفِطرِ؛ طُهرةً للصَّائمِ مِنَ اللَّغوِ والرَّفَثِ، وطُعمةً للمَساكينِ؛ مَن أدَّاها قبل الصَّلاةِ، فهي زكاةٌ مَقبولةٌ، ومَن أدَّاها بعد الصَّلاةِ، فهي صدقةٌ مِنَ الصَّدَقاتِ)) .

ژباړه: د ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دي، فرمايي: رسول صلى الله عليه وسلم سرسايه ورکول فرض کړي، دروژه دار لپاره د بې ځايه او بې حياء ويناوو پاکوالي دي او د مسکينانو لپاره خوراک دي. څوک چې يې د لمانځه څخه مخکې ورکړي نو قبوله شوي صدقه ده او څوک چې اختر د لمانځه وروسته ورکړي نو بيا د عامو صدقو په څېر صدقه ده.

د استدلال وجه:

د صدقې اضافت (فطر) بوژې ته شوی، او دا د اختصاص اضافت دی، نو بوزه کېدل په ورځ پورې خاص دي نه د شپې پورې، نو مراد بوزوالی شو چې د روژې ضد دی او هغه په ورځ کې وي نه په شپه کې، نو د اختر په

ورځ روژه نيول حرام دي، اما د اختر په شپه بوزه کېدل دا خو د رمضان په هره شپې کې وي نو وجوب ورپورې هېڅ تړاو نه لري، دا پر دې دليل شو چې موخه او مقصد د روژې ضد شو چې هغه د اختر ورځ ده.

٢- عنِ ابنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عنهما قال: ((أَمَر رسولُ الله صلَّى الله عليه وسلَّم بزكاةِ الفِطرِ أنْ تُؤَدَّى قبل خُروجِ النَّاسِ إلى الصَّلاةِ)).

ژباړه: د ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي : رسول صلى الله عليه وسلم امر کړی چې سرسايې دې لمانځه ته د خلکو له وتلو مخکې ورکړل شي.

د استدلال وجه:

حديث پر دې دلالت کوي چې سرسايې د ورکړې وخت چې شريعت( مندوب) غوره گرځولې، اختر په ورځ عيدگاه د تللو مخکې وخت دی، نو معلومه شوه چې واجبيدو وخت يې د بوزې ورځ ده.

دويم: بوزې پورې د سرسايې تړاو داسې دی لکه چې د قربانۍ تړاو چې د لوی اختر پورې دی، کله چې قرباني کول د شپې پرته د حلالکې په ورځ (لوی اختر) پورې تړلي نو همدا ډول سرسايه ورکول هم د بوزې د ورځ پورې تړلي دي نه په شپې پورې.

دريم: د بوزې شپه په حلال او حرامو کې د مخکنيو شپو په څېر ده، سرسايه تړل ورپسې روا نه دي، لکه: څرنگه چې په مخکې شپو پورې سرسايه نده تړل شوي.

څلورم: دا هغه قربت او عبادت دی چې په اختر پورې تړل شوي نو د اختر له ورځ څخه يې وجوب نه مخکې کېږي.

پنځم: صدقة الفطر نومول یې پر دې دلیل دي چې د وجوب یې د بوزې ورځې (اختر ورځ)په سبا راختلو پورې تړلي دي

**دويم مبحث: د سرسايې ويستلو مسنون وخت:**

د سرسايې ويستلو مسنون او غوره وخت د اختر په ورځ اختر د لمانځه مخکې وخت دی.

**دلائل:**

**لومړی: دکتاب دليل:**

الله تعالی فرمايي:(( قَدْ أَفْلَحَ مَن تَزَكَّىٰ وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ فَصَلَّىٰ)) [الأعلى: 14-15].

ژباړه: يقينا کامياب شو هغه څوک چې ځان يې پاک کړ، د الله نوم يې ياد کړ او لمونځ يې ادا کړ.

**د استدلال وجه:**

د ځان پاکوالي چې موخه يې ده، سرسايه ورکړه بيا عيدگاه ته الله تعالی د ذکر کولو په حالت کې ولاړ او لمونځ يې وکړ.

**دويم: د سنت څخه دليل:**

١- عنِ ابنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عنهما قال: ((أَمَر رسولُ اللهِ صلَّى الله عليه وسلَّم بزكاةِ الفِطرِ أن تُؤدَّى قبل خُروجِ النَّاسِ إلى الصَّلاةِ)).

ژباړه: د ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي : رسول صلی الله عليه وسلم امر کړی چې سرسايې دې لمانځه ته د خلکو له وتلو مخکې ورکړل شي.

٢- عن ابنِ عبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عنهما قال: ((فرَض رسولُ الله صلَّى الله عليه وسلَّم زكاةَ الفِطرِ؛ طُهرةً للصَّائِمِ مِنَ اللَّغوِ والرَّفَثِ، وطُعمةً للمَساكينِ؛ مَن أدَّاها قبل الصَّلاةِ فهي زكاةٌ مَقبولةٌ، ومَن أدَّاها بعد الصَّلاةِ فهي صدقةٌ مِنَ الصَّدقاتِ)).

ژباړه: د ابن عباس رضي الله عنه نه روایت دي، فرمايي: رسول صلى الله عليه وسلم سرسایه ورکول فرض کړي، دروژه دار لپاره د بې ځایه او بې حیاء ویناوو پاکوالي دي او د مسکینانو لپاره خوراک دي، څوک چې یې د لمانځه څخه مخکې ورکړي نو قبوله شوي صدقه ده او څوک چې له لمانځه وروسته ورکړي نو بیا د عامو صدقو څخه صدقه ده.

دریم: د اجماع دلیل:

العبدري، او ابنُ الحاجب پدې مسله اجماع رانقل کړي ده.

**دریم مبحث: د وخت څخه مخکې د سرسایې ورکول:**

د وخت څخه یوازې ورځ دوه مخکې د سرسایې ورکول روا دي، دا د مالکیانو او حنبلیانو مذهب دي، شوکاني، ابن باز، او ابن عُثیمین هم اختیار کړي دي.

پر لاندې دلیلونو استدلال کوي:

لومړی: عنِ ابنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عنهما: (أنَّه كان يُعطيها الذين يَقبَلونَها، وكانوا يُعطُونَ قبل الفِطرِ بِيَومٍ أو يومينِ) .

ژباړه: د ابن عمر رضي الله عنهما نه روایت دی، فرمایي :بېشکه دوی به سرسایه هغه چاته ورکوله چې قبلوله به یې، دوی به د اختر څخه ورځ دوه مخکې سرسایه ورکوله.

د استدلال وجه:

بېشکه د دوی له لورې د اختر څخه ورځ دوه مخکې سرسایه ورکول داسې عمل دی چې د نبي صلَّى الله عليه وسلَّم څخه به پټ نه و، بلکې خامخا به ورته د هغه له لورې له مخکې اجازه وه، د وجوب څخه مخکې ترې ذمه فارغول هېڅ معقول نه دي، دوی له اوریدو پرته د وجوب څخه سرسایه ورکول نه مخکې کول.

دویم: دا زکات دی نو د مال د زکات په څېر یې مخکې کول واجب دي.

دریم: د سرسایې څخه موخه د اختر په ورځ د فقیرانو سره مرسته او خواخوږي ده، نو د زیات وخت په مخکې کولو سره دغه موخه نه ترلاسه کېږي او په ورځ دوه مخکې کولو سره پکې اخلال نه راځي،نو ښکاره ده

چې دسر سايې لږ يا ډېره برخه به د اختر تر ورځې پورې ورسره پاتې وي، ترڅو پرې د اختر په ورځ د سوال او گرځېدلو خلاص وي.

**څلورم مبحث: سرسایې د ورکولو وروستی وخت:**

د سرسایې ورکولو په وروستي وخت کې د علماوو د اختلاف بېلا بېلې ویناوې دي چې دوه قوله یې قوي دي:

لومړی قول:

د سر سایې ورکولو وروستی وخت چې له هغې څخه یې وروسته کول حرام دي اختر د ورځې لمر پریوتل دي، دا د جمهورو مالکیانو، شافعیانو او حنبلیانو مذهب دي.

دلائل یې:

لومړی: د سنت دلیل:

١- عن أبي سعيدٍ الخدري رَضِي اللهُ عنه، قال: ((كنَّا نُخرِجُ في عهدِ رَسولِ الله صلَّى الله عليه وسلَّم يومَ الفِطرِ صاعًا من طعامٍ....)).

د أبو سعيد الخُدري رَضِيَ الله عنه نه روایت دی، فرمایي: مونږ به د رَسول الله صلی الله علیه وسلَّم په وخت کې (سرسایه) دبوزې( اختر) په ورځ یوه پیمانه خوراک ورکولو.

د استدلال وجه:

د (بوزې ورځ) لفظ په ټوله ورځ کې د ویستلو پر سموالی او صحت دلالت کوي، ځکه د ورځ ویل ټولې ورځې ته سم دي.

٢- عن ابنِ عبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عنهما قال: ((فرَض رسولُ الله صلَّى الله عليه وسلَّم زكاةَ الفِطرِ؛ طُهرةً للصَّائِمِ مِنَ اللَّغو والرَّفَث، وطُعمةً للمساكينِ؛ مَن أدَّاها قبل الصَّلاةِ فهي زكاة مقبولة، ومَن أدَّاها بعد الصَّلاةِ فهي صدقةٌ مِنَ الصَّدَقاتِ)).

ژباړه: د ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دي، فرمايي: رسول صلى الله عليه وسلم سرسايه ورکول فرض کړي، دروژه دار لپاره د بې ځايه او بې حياء ويناوو پاکوالي دي او د مسکينانو لپاره خوراک دي. څوک چې يې د لمانځه څخه مخکې ورکړي نو قبوله شوي صدقه ده او څوک چې د لمانځه څخه وروسته ورکړي نو بيا د عامو صدقو څخه صدقه ده.

د استدلال وجه:

د (مَن أدَّاها) وينا دوه ځلې تکرار او دواړه ځله يې ضمير دمرجع يووالى دا په ډاګه کوي چې د لمونځ څخه مخکې او وروسته صدقه ورکول دواړه سرسايه ده مګر داچې ثواب يې کم شو نو د عامو صدقاتو په څېر وګرځيده

دويم: د سرسايې ورکولو څخه موخه د اختر په ورځ فقيران د سوال او ګرځيدلو څخه خلاصول دي چې دغه موخه په ټوله ورځ ګې ترلاسه کېږي ولو که د لمانځه وروسته ول نه وي.

دويم قول:

د سر سايې ورکولو وروستى وخت د اختر لمونځ دي، او د لمانځه څخه وروسته کول يې حرام دى، کچېرته يې وروسته کړي نو بيا سرسايه نه بلکې عامه صدقه حسابېږي، دا د اهل ظواهرو مذهب دى، ابن تيمية، ابن القيِّم، صنعاني، شوکاني، ابن باز، او ابن عُثيمين هم اختيار کړي دي.

دلائل یې:

لومړی: د سنت دلیل:

١-عن ابنِ عبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عنهما قال: ((فرَض رسولُ الله صلَّى الله عليه وسلَّم زكاةَ الفِطرِ؛ طُهرةً للصَّائِمِ مِنَ اللَّغو والرَّفَث، وطُعمةً للمساكينِ؛ مَن أدَّاها قبل الصَّلاةِ فهي زكاة مقبولة، ومَن أدَّاها بعد الصَّلاةِ فهي صدقةٌ مِنَ الصَّدَقاتِ)).

ژباړه: د ابن عباس رضي الله عنه نه روایت دي، فرمایي: رسول صلی الله علیه وسلم سرسایه ورکول فرض کړي، دروژه دار لپاره د بې ځایه او بې حیاء ویناوو پاکوالي دي او د مسکینانو لپاره خوراک دي. څوک چې یې د لمانځه څخه مخکې ورکړي نو قبوله شوي صدقه ده او څوک چې د لمانځه څخه وروسته ورکړي نو بیا د عامو صدقو په څېر صدقه ده.

٢- عنِ ابنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عنهما قال: ((أمرَنا رسولُ اللهِ صلَّى الله عليه وسلَّم بزكاةِ الفِطرِ أن تؤدَّى قبل خُروجِ النَّاسِ إلى الصَّلاةِ)).

ژباړه: د ابن عمر رضي الله عنه نه روایت دی، فرمایي : رسول صلی الله علیه وسلم امر کړی چې سرسایې دې لمانځه ته د خلکو له وتلو مخکې ورکړل شي.

٣- عن عائِشةَ رَضِيَ اللهُ عنها قالت: قال النبيُّ صلَّى الله عليه وسلَّم: ((مَن عمِل عملاً ليس عليه أمرُنا، فهو رَدٌّ)).

ژباړه: د عائِشې رضي الله عنها نه روایت دی، فرمایي: نبي صلَّى الله علیه وسلَّم فرمایلي دي:" څوک چې داسې یو عمل وکړي چې مونږ پرې امر نه وي کړي، نو هغه مردود(د منلو وړ نه) دی.

د استدلال وجه:

که سرسایه ورکول دومره وروسته شي چې خلک د اختر لمانځه ته ولاړ شي، نودا یې داسې عمل وکړ چې د الله تعالی او هغه د رسول له لورې پرې امر نه دی شوي، نو دا رد شوی او د منلو نه دي.

دویم: هر عبادت خپل وخت لري کله چې یې قصدا انسان له خپل وخت څخه وروسته کړي نو نه قبلیږي.

دریم: د لوی اختر په ورځ امام د لمونځ کولو نه مخکې د قربانۍ په حلالکه باندې قیاس کول، هغه قرباني نه وي بلکې د ګډ غوښې وي.

**پنځم مبحث: د سرسایې قضایي راوړل:**

څوک چې پخپل وخت سرسایه ورنه کړي نو قضايي به يې راوړي، دا د جمهورو مالکيانو، شافعيانو او حنبليانو مذهب دي، ابن حزم الظاهري هم اختيار کړی.

دلائل په لاندې ډول دي:

لومړی": زکاة الفطر(سرسايه) د مال حق دی چې پرې واجب شوی، څوک چې يې پخپل وخت ور نه کړي، نو چې د چا حق وي  د ده په ذمه او مال کې پاتې شو، د قرض په څېر د وخت په وتلواو تېريدلو له ده څخه نه ساقطېږي.

دويم: سرسايه ورکول د لمونځ په څېر عبادت دی چې د وخت په وتلو سره نه ساقطېږي.

دريم: د سرسايې په ورکړه کې مقصد د روژې کمی پوره کول دي چې هغه هر وخت ترلاسه کېږي.

څلورم: قضايي راوړل د واجب له ځانګړتياوو څخه دي، او سرسايې واجب ده نو قضايي به يې رواړل کېږي.

## څلورم فصل: په سرسایه کې به کوم جنس ورکول کېږي

**لومړی مبحث: په سرسایه کې کوم جنس ورکول کېږي:**

په سرسایه کې د سیمې او منطقې غالب خواړه ورکول کېږي، دا په ټوله کې د مالکیانو او شافعیانو مذهب دی، له امام احمد څخه روایت دي، د زیاتو علماوو مذهب هم دي، ابن تیمیة، ابن القیم، ابن باز او ابن عثیمین رحمهم الله هم اختیار کړي.

دلائل یې:

لومړی: د سنت دلیل:

عن أبي سعيدٍ الخدريِّ رَضِيَ اللهُ عنه قال:((كنَّا نُخرِجُ إذ كان فينا رسولُ الله صلَّى الله عليه وسلَّم زكاةَ الفِطرِ عَن كلِّ صغيرٍ وكبيرٍ، حرٍّ أو مملوكٍ، صاعًا من طعامٍ، أو صاعًا من أَقِطٍ، أو صاعًا من شَعيرٍ، أو صاعًا من تَمرٍ، أو صاعًا مِن زَبيبٍ)) ، وفي رواية: ((كنَّا نُخرِجُ في عهدِ رَسولِ اللهِ صلَّى الله عليه وسلَّم يومَ الفِطرِ صاعًا مِن طَعامٍ. وقال أبو سعيدٍ: وكان طعامُنا الشَّعيرَ والزَّبيبَ، والأَقِطَ والتَّمر)) .

ژباړه: د أبي سعيد الخدري رضي الله عنه څخه روایت دی، فرمایي: کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له مونږ سره و، نو مونږ به د هر وړوکي او لوي، ازاد او مري، سرسایه یوه پیمانه(صاع) خوراک، یا یوه پیمانه پنیر، یا یوه پیمانه وربشې، یا یوه پیمانه کجورې، او یا یوه پیمانه ممیز ویستل، په بل روایت کې راځي: مونږ به د رسول صلی الله علیه وسلم په زمانه کې د فطر

په ورځ يوه پيمانه طعام ويستلو، أبو سعيد رضي الله عنه وايي: زمونږ خواړه وربشې، مميز، پنير او کجورې وې.

د استدلال وجه:

بېشکه نبي صلى الله عليه وسلم سرسايه يوه پيمانه کجورې يا يوه پيمانه وربشې مقرر کړې او دا ځکه چې مدينې د اوسيدوونکو خواړه ول.

دويم: سرسايې څخه موخه د اختر په ورځ د مسکنانو او بېوزلو خواړه پوره کول دي، دهغوی خواخوږي په دې ترلاسه کېږي چې سرسايه بايد د يو ښار د اوسيدونکو له خوړو د جنس څخه وي.

دريم: د اړمنو زړونه د خپل سيمې خوړو ته ميلان کوي.

څلورم: په سرسايه سره موخه د سوال څخه د مسکينانو خلاصول دي او هغوي د خوراک غوښتنه کوي، نو واجبه ده چې خواړه معتبر وګرځول شي.

پنځم: کله چې د سرسايې اداء کول هغه د زياتي خوراک څخه واجب دي، نو واجب ده چې سرسايه ورکول به هم هغه د خوراک څخه وي.

شپږم: دوی پدې مکلفول چې د خپلو خوړو پرته بل څه وباسي، پدې کې سرسايه ورکوونکي ته مشقت دي، او اخستونکی ورته اړ نه دي.

اوم: د کفاراتو پر صدقې قياس کول، هلته هم د سيمې او ښار د اوسيدونکوو خوراک ويستل کېږي، او سرسايه هم د کفاراتو له جنس څخه ده، ځکه داوړه په بدن پورې تړاو لري.

**دويم مبحث: د سرسايې اندازه، او ايا کمی پکې جائز دی؟**

**لومړی مطلب:د سرسايې اندازه:**

په سرسايې کې واجب مقدار يو صاع(پيمانه) خوراک ورکول دي، دا د جمهورو مالکيانو، شافعيانو او حنبليانو مذهب دی، د زياتو علماوو وينا هم ده او د کجورو او وربشو په ورکړه سره متفق دي.

دلائل يې:

لومړی: د سنت دليل:

١- عن ابنِ عُمَرَ رَضِيَ الله تعالى عنهما قال: ((فرَض رسولُ الله صلَّى الله عليه وسلَّم زكاةَ الفِطرِ صاعًا من تَمرٍ، أو صاعًا مِن شَعيرٍ، على العبدِ والحرِّ، والذَّكَرِ والأنثى، والصَّغيرِ والكَبيرِ مِنَ المسلمين)).

ژباړه: د ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي : رسول صلى الله عليه وسلم زكاة الفطر(سرسايه)، يو پيمانه کجورې يا وربشې، په هر ازاد، مري، نارينه، ښځينه لوی او وړوکي مسلمان باندې ورکول فرض کړي.

٢- عن أبِي سعيدٍ الخُدريِّ رَضِيَ اللهُ عنه قال: ((كنَّا نُخرِجُ زكاةَ الفِطرِ إذ كان فينا رسولُ الله صلَّى الله عليه وسلَّم: صاعًا من طعامٍ، أو صاعًا من شَعيرٍ، أو صاعًا من تَمرٍ، أو صاعًا من زَبيبٍ، أو صاعًا من أَقِطٍ، فلم نزلْ نُخرِجُه حتى قدِم معاويةُ المدينة، فتكلَّم، فكان فيما كلَّمَ به النَّاسَ: إني لأرى مُدَّينِ مِن سَمراء الشَّام تعدِل صاعًا مِن تَمرٍ، قال: فأخذ النَّاسُ بذلك. قال أبو سعيد: فلا أزالُ أُخرِجُه كما كنتُ أخرِجُه)).

ژباړه: د أبو سعيد الخدري رَضِيَ الله عنه نه روايت دی، فرمايي: کله چې په مونږ کې رسول صلى الله عليه وسلم موجود و، مونږ به سرسايه يوه پيمانه

خوراک، يا يوه پيمانه وربشې، يا يوه پيمانه کجورې، يا يوه پيمانه مميز، يا يوه پيمانه پنير ويستل، مونږ د تل لپاره همدا ويستل تردې چې معاوية رضي الله عنه مدينې ته راغلی، خلکو ته يې وينا وکړه، خلکو ته يې په خبرو کې دا هم وويل: زه وينم چې د شامي اوړو دوه مده(ټاکلې اندازه) کجورو د صاع سره برابر دي، هغه فرمايي: خلکو پرې عمل شروع کړ، أبو سعيد رضي الله عنه وايي: تر اوسه پورې زه هغه څه اوباسم چې مخکې مې ويستل.

د استدلال وجه:

حديث پر دې دلالت کوي چې په سرسايه کې فرض انداز صاع دی، چې أبو سعيدٍ الخُدري رَضِيَ اللهُ عنه پرې هم عمل کړي، اما د معاوية رَضِيَ اللهُ عنه وينا د هغه اجتهاد دي چې د نصوصو سره نشي پرتله کيدای.

دويم: دا خوراک دی چې په سرسايه کې ويستل کېږي، نو واجب ده چې د کجورو او وربشو په څېر په پيمانه اندازه کړای شي.

دريم: سرسايه په خوړو کې پر سرسايه ورکوونکو واجب حق دی، نو واجب د چې د ميوې او غلې په څېر د اجناسو په اختلاف سره اندازه فرق ونه کړي.

**دويم مطلب: ايا په سرسايه کې د ټاکلې اندازې څخه کمی کول جائز دي؟!**

د سرسايه په ويستلو کې د ټاکلې او واجب اندازې څخه کمی کول جائز نه دي.

دليل يې اجماع ده:

ابن تيمية رحمه الله اجماع رانقل کړي ده.

**دريم مبحث: په سرسايې کې د صاع اندازه څومره ده:**

سرسايې کې د د واجبې پيمانې (چې صاع نومېږي) اندازه عراقي پنځه رطله(يو ډول پيمانه) او ثلث دی، دا د جمهورو مالکيانو، شافعيانو، حنبليانو مذهب دی، د احنافو څخه ابو يوسف هم دې ته ورګرځيدلي، ، أبو عُبيد اوإسحاقُ بن راهَوَيه هم اختيار کړي، د حرمينو فقهاوو او د زياتره عراقي فقهاوو هم دا وينا ده.

دلائل يې:

لومړی: د سنت دليل:

عنِ ابنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عنهما، أنَّ رسولَ اللهِ صلَّى الله عليه وسلَّم قال: ((المكيالُ مكيالُ أهلِ المدينةِ، والوزنُ وزنُ أهلِ مكَّةَ)) .

ژباړه: د ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی، بېشکه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي : پيمانه د مدينې والو معتبره ده او وزن د مکې والو معتبر دي.

د استدلال وجه:

پيمانه د مدينې والو معتبره ده ځکه دوی د صاع مقدار د خپلو سلفو څخه رانقل کړي نو عمل کول پرې معين دي.

پدې اړه نور اثار:

١- د امام مالک روايت دي، وايې: نافع ماته صاع راوويست او ويې ويل: دا صاع ماته ابن عمر راکړي، او ويلي يې: د دنبي صلی الله عليه وسلم صاع دي، ما اندازه کړه نو د عراقي پنځه رطلو سره برابره وه.

۲-ابو يوسف رحمه الله مدينې ته راغلی، د صاع په اړه يې پوښتل، دوی وويل: پنځه رطله او ثلث دي، د دليل په اړه يې ترې وپوښتل هغوی وويل سبا به درته دليل راوړو، سبا ته اويا مشران راغلل چې هر يو خپله صاع په څنګ کې نيوله وه، او ويل يې: ماته خپله صاع مې له پلار څخه راپاتې ده، هغه ته زما له نيکه پاتې وه تر دې چې هر يو خپل سند رسو الله صلی الله عليه وسلم ته ورسولو، نو امام ابو يوسف له خپلې وينا وګرځيده.
۳- د عُمَر بن حبيب القاضي نه روايت دی، فرمايي: د ابو جعفر سره مې يوځای حج وکړ، کله چې مدينې ته راغلی ويې ويل: د رَسولِ الله صلَّی الله عليه وسلَّم صاع راوړئ، بيا يې اندازه کړه، نو په عراقي رطل پنځه رطله او ثلث وختله.

**څلورم مبحث: په سرسایه کې قیمت ویستل:**

په سرسایه کې قیمت او نقدي روپۍ ویستل روا نه دي، دا د جمهورو مالکیانو، شافعیانو او حنبلیانو مذهب دی، ابن حزم هم اختیار کړي.

دلائل یې:

لومړی: د سنت دلیل:۱- عن أبي سعيدٍ الخُدريِّ رَضِيَ اللهُ عنه قال: ((كنَّا نُخرِجُها على عَهدِ رَسولِ الله صلَّى الله عليه وسلَّم صاعًا مِن طعامٍ، وكان طعامُنا التَّمرَ والشَّعيرَ، والزَّبيبَ والأقِط)) .

ژباړه: د أبي سعيد الخُدري رَضِي اللهُ عنه نه روایت دی فرمايي: مونږ به د رَسولِ الله صلَّى الله عليه وسلَّم په زمانه کې سرسایه یوه پیمانه خوراک ویستله، زمونږ خوراک کجورې، وربشې، ممیز او پنیر ول.

د استدلال وجه:

نبي صلَّى الله عليه وسلَّم د سرسایې ورکول د خوراک په اجناسو کې فرض کړي، څوک چې قیمت ورکوي نو فرض یې پرېښودل.

۲- عن ابنِ عبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عنهما قال: ((فرَضَ رسولُ اللهِ صلَّى الله عليه وسلَّم زكاةَ الفِطرِ؛ طُهرةً للصَّائِمِ مِنَ اللَّغوِ والرَّفَثِ، وطُعمةً للمساكينِ)) .

ژباړه: د ابن عباس رضي الله عنه نه روایت دي، فرمايي: رسول صلى الله عليه وسلم سرسایه ورکول فرض کړي، دروژه دار لپاره د بې ځایه او بې حیاء ویناوو پاکوالي دي او د مسکینانو لپاره خوراک دي.

د استدلال وجه:

رسول صلى الله عليه وسلم سرسايه وركول فرض كړي ترڅو د مسكينانو لپاره خوراک وګرځي، نو معلومه شوه چې په سرسايه کې به خوراک ويستل كېږي نه قيمت.

٣- عن عائشةَ رَضِيَ اللهُ عنها قالت: قال النبيُّ صلَّى الله عليه وسلَّم: ((مَن عَمِل عملاً ليس عليه أمرُنا، فهو ردٌّ)).

ژباړه: د عائِشې رَضِيَ اللهُ عنها نه روايت دی، فرمايي: نبي صلَّى الله عليه وسلَّم فرمايلي دي:" څوک چې داسې يو عمل وكړي چې مونږ پرې امر نه وي كړي، نو هغه مردود او د منلو نه دي.

د استدلال وجه:

په سرسايه کې د خوراک پرته بل څه وركول نبي صلَّى الله عليه وسلَّم د امر مخالفت كول دي، نو دا به رد او د منلو وړ نه وي.

دويم: سرسايه ويستل يو فرضي عبادت دي چې معلوم جنس پكې وركول كېږي، د معلوم جنس نه پرته بل څه ويستل روا نه دي، لكه څرنګه چې د خپل معلوم وخت نه پرته يې ويستل ناجائز دي.

دريم: سرسايه فقير د اړتيا پوره كولو او نعمت د شكر اداء كوله په موخه واجب شوي ده، اړتياوې بېلابېل ډولونه لري نو بايد واجب هم بېلابېل ډولونه ولري، ترڅو فقير ته له هر ډول هغه څه وروسېږي چې د هغه اړتيا پوره كوي، د نعمت شكر او اړمنو خواخوږه په هغه جنس سره ترلاسه شي چې رب پرې لورېينه كړي وي.

څلورم: د قيمت او پيسو ويستل د منصوص نه اوښتل دي، نو ځکه نه روا کېږي،دا داسې ده  لکه د ښه په ځای چې خراب وباسي.
پنځم: بېشکه نبي صلّى الله عليه وسلّم  د مختلفو اجناسو څخه چې اندازه او مقدار يې يو دي سرسايه ورکول فرض کړي دي، کچېرته قيمت معتبر وی نو د جنس د اختلاف لامله به مقدار هم مختلف وی.
شپږم: په سرسايه کې نغدې روپۍ ورکول د دې احتمال لري چې په اندازه کولو کې خطا رامنځته شي، ښايي کمه وباسي چې ذمه يې ترې بري نه شي.
اووم:  د سر سايې په ورکړه کې قيمت معتبرول دا شعيره د ښکاري شعيرة څخه پټې صدقې ته اړوي،  يو صاع خوراک ورکول سرسايه دټولو مسلمانانو ترمنځ څرګنده او ښکاره کوي،وړوکي او لوی ټولو ته معلومه وي، ټول يې پيمانه کول او ويشلويني او په خپل منځ کې پېژني، خو که چېرته قيمت ويستل وي، نو انسان به يې د ځان او اخستوونکي ترمنځ په پټه وباسي.

**پنځم مبحث: سرسايه بېلابېلې برخې کول او ويستل:**

په چا چې سرسايه ورکول واجب وي نو د هغه لپاره روا ده چې په برخو يې وويشي او يو پر بل پسې يې اوباسي.

دليل اجماع دي:

ابن حَزم رحمه الله پدې اجماع رانقل کړي ده.

**پنځم فصل:سرسایه به چاته ورکول کېږي، څوک یې مستحق دی؟!**

د سرسايې د مستحقينو په اړه د علماوو په اختلاف کې دوه قوله دي:

لومړی قول:

د سرسايې مستحقين هماغه مال د زکات اته ډوله مستحقين دي، دا د جمهورو حنفيانو، شافعيانو او حنبليانو مذهب دي.

دلائل يې:

لومړی: د کتاب دليل

الله تعالی فرمايي:(( إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ)) [التوبة: 60]

د استدلال وجه:

پدې ايت کې سرسايه صدقې د نوم لاندې داخله ده.

دريم: دا واجبه صدقه ده، نو واجب ده چې زکات د مال په څېر د نورو مستحقينو په شتون کې يو ډول مستحقينو پورې ځانګړې کول روا نه دي.

دويم قول:

د سرسايې مستحقين يوازې فقيران او مسکينان دي، دا د مالکيانو مذهب او د حنبليانو وينا ده، ابن تيميَّة، ابن القيم، شوکاني، ابن باز، او ابنُ عُثيمين رحمهم الله هم اختيارکړې.

دلائل يې:

لومړی: د سنت دليل:

عن ابنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عنه قال: ((فرَضَ رسولُ الله صلَّى الله عليه وسلَّم زكاةَ الفِطرِ؛ طُهرةً للصَّائِمِ مِنَ اللَّغوِ والرَّفَثِ، وطُعمةً للمساكينِ...)) .

ژباړه: د ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دي، فرمايي: رسول صلى الله عليه وسلم سرسايه ورکول فرض کړي، دروژه دار لپاره د بې ځايه او بې حياء ويناوو پاکوالي دي او د مسکينانو لپاره خوراک دي.

د استدلال وجه:

دا حديث مسکينانو ته د سرسايې په ورکړه کې نص دی، نو په دوی پورې يې خاص کول واجب دي.

دويم: د زکات په اته ډوله مستحقينو د سرسايې ويشل نه نبوي لارښوونه ده او نه يې پرې امر کړي، نه صحابوو او نه د هغې نه وروسته چې دا کار کړي.

تمت بحمد الله

وصلى الله على نبينا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين

Download from:aghalibrary.com